# مرماشوم

پښتو

( د غوثِ اعظم رحمة الله تعالى عليه حکايات )




شيخِ طريقت، اميرِ اهلسنت، باني د دعوتِ اسلامي حضرت علامه مولانا ابو بلال

محمد الياس عطار قادري رضوي دامت برکاتهم العاليه

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ؕ

## د کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښ دا لاندي دعا اولولئ اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ کوم څه چه لولئ نو هغه به مو ياد پاتي کيږي:

اَللّٰهُمَّ افۡتَحۡ عَلَيۡنَا حِكۡمَتَكَ وَانۡشُرۡ
عَلَيۡنَا رَحۡمَتَكَ يَا ذَاالۡجَلَالِ وَالۡاِكۡرَام

**ترجمه:** اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه دَ علم او دَ حکمت دروازې پرانزې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج1 ص40 دار الفکر بيروت)

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولی)

### دَقيامت په ورځ پښيمانتيا

**فرمانِ مصطفٰی** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : دَ آخرت [قيامت] په ورځ به دَ ټولو نه زيات هغه کس پښيمانه وي چا ته چه په دُنيا کښې د علم حاصلولو وخت ميلاؤ شوې وو او هغه علم حاصل نه کړو او هغه کس (به هم ډير پښيمانه وي) چه په خپله ئې علم حاصل کړې وو او دَ هغه نه نورو خلقو په اوريدلو سره فائدې اوچتې کړې وي خو ده ترې ځپله فائده حاصله نه کړه (يعني په علم ئې عمل اونه کړو)

(تاريخ دمشق لابن عساکر ج51ص138 دارالفکر بيروت)

### کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که دَ کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼې کمې وي يا په بائنډنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلي وي نو مکتبة المَدينه ته رجوع اوکړئ.

# مړ ماشوم

از : شیخ طریقت امیر اهلسنت، بانئ دعوتِ اسلامي
**علامه، مولانا، ابو بلال محمد الیاس عطار قادري، رضوي**
دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه

دَ ترجمي پیشکش:

مجلس تراجم (دعوتِ اسلامي) د دي رسالې په آسانه پښتو ژبه کښې د وس مناسب ترجمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي یا کمي اومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجم ته د هغې خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

مجلس تراجم دعوتِ اسلامي

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینه محله سوداگران
پرانی سبزی منڈی، باب المدینه کراچی، پاکستان
**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 1262
**Email:** translation@dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# مړ ماشوم

شيطان که هر څومره سستي درولي دا رِساله پوره اولولئ اِنْ شَآءَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ ستاسو په زړه کښ به د غوثِ اعظم عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْاَكْرَم محبّت نورهم زيات شي

## د درود شريف فضيلت

نبيِّ مُعظّم، رسولِ مُحترم، سلطانِ ذِی حَشَم، سراپا جُود و کرم، حبيبِ مُکرَّم، مَحبُوبِ ربِّ اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مسلمان چه تر څو پورې په ما باندې درود شريف لولي فرښتې تر هغې په هغه رحمتونه ليږلي اوس د بنده خوښه ده که کم لولي اوکه زيات.

(ابنِ ماجه ج1 ص 490 حديث 907 دارالمعرفة بيروت)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

په **خانقاه** [يعني آستانه] کښ يوې پرده دارې ښځې خپل **مړ ماشوم** په څادر کښ تاؤ کړې او خپلې سينې سره ئې ټينګ نيولې وو او په چغو چغو ئې ژړل. په دې کښ يو "**مدني ماشوم**" په منډه منډه راځي او د همدردئ په انداز کښ د هغه ښځې نه د ژړا د وجې تپوس کوي. هغه په ژړا ژړا کښ وائي: ځويه! زما خاوند د خپل ځيګر د ټُکړې د ليدلو په ارمان کښ د دې دُنيا نه لاړو، دا ماشوم هغه وخت زما په ګېډه کښ وو

او اوس صرف دې د خپل پلار نښه او زما د ژوند اَسره وو. دا بیمار شو، دې مې هم دې خانقاه ته د دَم کولو د پاره راوړلو نو په لار کښې د ده نه ساه اوختله، خو زه بیا هم ډیره د زړه په اُمِید سره دلته حاضره شوم ځکه چه د دې خانقاه د بزرګ د وِلایت هر طرف ته شُهرت دې او د دوئ د کرم په نظر اوس هم ډیر څه کیدې شي خو هغوئ ماته د صبر کولو نصیحت اوکړو او دننه ئې تشریف یوړلو. دا ئې چه اووئیل نو هغه ښځه بیا په ژړا شوه. د "**مدني ماشوم**" په زړه کښې رحم راغلو او د هغوئ د رحمت نه په ډکه ژبه باندې دا الفاظ راغلل: "**مُحترمې! ستا ځوئ مړ نه بلکه ژوندې دې! اوګوره ورته! هغه خوزیږي.**" غم وهلې **مور په تادئ سره د خپل "مړ ماشوم" نه کپړه اوچته کړه نو هغه خو په رښتیا ژوندې وو، او لاس ښپې ئې خوزول او لوبې ئې کولې.** په دې کښې د خانقاه بزرګ د دننه نه واپس باهر ته تشریف راوړو. ماشوم ئې چه ژوندې اولیدو نو په ټوله خبره پو هه شو، کونټئ ئې راواغسته او په "**مدني ماشوم**" پسې ئې ورمنډه کړه چه تا دَ اوس نه د تقدیر پټ رازونه ښکاره کول شروع کړي دي! "**مدني ماشوم**" اوتښتیدو او بزرګ ورپسې ورمنډه کړه، "**مدني ماشوم**" یو دم د مُقبرې [یعني د اديرې] طرف ته تاو شو او په اوچت آواز کښې ئې غږ اوکړو: اے قبرونو والؤ! ما بچ کړئ! په منډه ورروان بزرګ ناڅاپه په خپل ځائ اودریدو **ځکه چه د اديرې نه درې سوه مړي راپاڅیدلي وو او د هغه "مدني ماشوم" د**

حفاظت د پاره ولاړ وو او هغه ”مدني ماشوم“ د سپوږمۍ په شان پرقيدلي مخ نيولي لري ولاړ په مسکا وو. هغه بزرګ په ډير ارمان سره ”مدني ماشوم“ ته کتل او وئيل ئې: ځويه! مونږ ستا مرتبې ته نه شو رسيدې، په دې وجه مونږه ستا خوښې ته خپل سر ټيټوو. (مُلَخص از الحقائق في الحدائق ج1 ص142 وغيره مکتبه اويسيه رضويه، بهاولپور پاکستان)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** تاسو خبر ئې هغه **”مدني ماشوم“** څوك وو؟ د هغه **”مدني ماشوم“** نوم **عبدُالقادِر** وو او وروستو بيا هغوئ د **غوثُ الاعظم** عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْاَكْرَم په نوم مشهور شو.

کیوں نہ قاسم ہو کہ تو ابنِ ابی القاسم ہے

کیوں نہ قادِر ہو کہ مختار ہے بابا تیرا (حدائقِ بخشش شریف)

تاسو به ولې نعمتونه نه تقسيموئ چه تاسو د اَبو القَاسِم د اولاد نه ئې، تاسو به ولې قادِر نه ئې چه ستاسو نِيکه [يعني حضور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم] **مختار** وو.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د مُبارك وړوکوالي د عمر 7 کرامتونه

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** زمونږه غوثُ الاعظم عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْاَكْرَم پيدائشي ولي وو. (1) هغوئ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه لا د مور په ګيډه کښې وو چه کله به ئې مور له پرنجې ورغلو او هغې به پرې **اَلْحَمْدُ لِلّٰه** وئيل نو دوئ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه به په ګيډه کښې په جواب کښې **يَرْحَمُكِ الله** وئيلو. (الحقائق فی الحدائق ص 139) (2) غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د **رمَضانُ المُبارك** په اولنې

تاريخ د دوشنبې [يعني د ګُل] په ورځ د صبح صادِق په وخت کښې دُنيا ته تشريف راوړو هغه وخت ئې شونډې په قلاره خوزيدلې او د **الله الله** آواز راتللو. (ايضًا) (3) په کومه ورځ چه غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه پيدا شو په هغه ورځ د دوئ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د پيدائِش په وطن **جِيلان شريف** کښې يوولس سوه ماشومان پيدا شو او هغه ټول هلکان وو او ټول **وَلِيُّ الله** جوړ شو (تفريح الخاطر ص 15) (4) غوثُ الاعظم عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْاَكْرَم چه څنګه پيدا شو روژه ئې اونيوله او کله چه د نمر سترګه پريوته هغه وخت ئې د مور پئ اوڅښکل. پوره **رمضانُ المبارك** د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه هم دا معمول [يعني عادت ] وو. (بهجة الاسرار ص 172) (5) د پينځو کالو په عمر کښې چه کله اول ځل د **بِسْمِ الله** وئيلو د رسم د پاره يو بزرګ ته کښيناستلو نو **اَعُوْذُ** او **بِسْمِ الله** ئې اووئيل او سورة فاتِحه او د **الٓمّٓ** نه واخله اتّلس سيپارې ئې [په يادو] اولوستلې. هغه بزرګ ورته اووئيل: بچيه! نور اولوله. وې فرمائيل: بس ما ته دومره ياد دي ځکه چه زما مور ته هم دومره ياد وو، چه کله زه د مور په ګيډه ووم هغه وخت به هغې لوستلو، ما د هغوئ نه په اوريدو ياد کړو. (الحقائق في الحدائق ص 140) (6) کله چه به په هلکوانئ کښې هغوئ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د لوبو کولو اراده کوله، نو غائِبانه آواز به راتلو: اے عبدُ القادِر! مونږه ته د لوبو د پاره نه ئې پيدا کړې. (ايضًا) (7) هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه به چه کله مدرسې ته تشريف ويوړلو نو آواز به راتلو: ”د الله عَزَّوَجَلَّ ولي له ځائ ورکړئ“ (بهجةُالاسرار ص 48)

نَبوی مِینہ عَلَوی فَصل بَتُولی گُلشن
حَسَنی پھول حُسینی ہے مَہکنا تیرا (حدائقِ بخشش شریف)

تاسو نبوي باران، علوي فصل، د فاطِمه د
ګُلشن حسني ګُل ئې او حُسيني خوشبو لرئ

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د کرامت تعرِيف

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** ځيني وخت سړي د کراماتِ اولياء په باره کښې د شيطان په وسوسو کښې راشي او کرامات د خپل عقل په تله باندې تلي او دغسې هغه ګمراه شي. ياد ساتئ! **کرامت** وائي هغه خِلافِ عادت خبرې ته کومه چه عادتاً مُحال وي يعني د ظاهري اسبابو په ذريعه هغه نه شي کيدلې خو د الله عَزَّوَجَلَّ په ورکړه باندې د اوليائے کرام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی نه بعضې وختونه داسې کارونه ښکاره کيږي. د **نبي** نه که د نُبوّت د اعلان نه مخکښې داسې خيزونه ښکاره شي نو هغې ته **اِرهاص** وائي او د اعلانِ نُبوّت نه وروستو که ترې اوشي نو **مُعجِزه** ورته وائي. د عامو مؤمِنانو نه که داسې خيزونه ښکاره شي نو هغې ته **معونت** او که د **ولی** نه ظاهر شي نو **کرامت** ورته وائي. او که د کافِر يا فاسِق نه څه خلافِ عادت کار ښکاره شي نو هغې ته **اِستِدراج** (اِس. تِد . رَاج) وائي.

(مُلَخّص از بهار شريعت ج1 ص56–58 مکتبة المدينه باب المدينه کراچي)

عقل کو تنقید سے فُرصت نہیں
عِشق پر اعمال کی بُنیاد رکھ

عقل د اِعتراض کولو نه نه اوزګاریږي
د خپلو اعمالو بُنیاد په عِشق باندې کیږده.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## غوثِ پاك میرګيٖ اوزغلولو

یو ځل د غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په دربار کښې یو کس حاضِر شو او فریاد ئې اوکړو چه: اے لویه ځوانه! زما په ښځه میرګي دي، حضورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه ورته اوفرمائیل: [لاړ شه او] ”د هغې په غوږ کښې اووایه چه د غوثِ اعظم حُکم دي چه د بغداد نه اوځه.“ [چه هغه ورته ښکه په غوږ کښې دا اووئیل] نو په هغه ساعت هغه ښه شوه.

(مُلَخَّص بَهجة الاسرار للشَّطنُوفی ص 140،141 دارالکتب العلمیة بیروت)

## میرګي شرارتي پیرۍ دي

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** زما آقا اعلٰی حضرت، اِمامِ اهلِسُنّت، مولانا شاه اِمام احمد رضا خان عَلَیْهِ رَحْمَةُ الرَّحْمٰن فرمائي: (میرګي) غټه خبیثه بلا ده او هم دې ته **اُمُّ الصِّبیَان** وائي، (د ماشومانو یوه بیماري چه په هغې کښې اندامونه جهټکې وهي) که هغه په ماشومانو وي، ګني صَرع (میرګي) [دي]. د تجربې نه ثابِته شوې ده چه که د پینځه ویشت کالو [په عمر] کښې دننه دننه وي نو اُمِید دې چه ختمه به شي او که د پینځه ویشت کالو نه پس یا د پینځه ویشت کالو والا باندې اولګیدله نو بیا نه

بنه کيږي. خو که د کوم يو ولي په کرامت يا په تعويذ ختمه شي نو دا اَمرِ آخَر (يعني بله خبره) ده. دا (يعني ميرګي) په حقيقت کښ يو (شرارتي پيرۍ يعني) شيطان دې چه انسان تنګوي.

## د ماشومانو د پاره د ميرګي نه د بچ کيدو نُسخه

د ماشوم د پيدا کيدو نه پس چه په اذان کولو کښ ناوخته کولې شي، د دې په وجه اکثر دا (يعني د ميرګي) مرض لګي او که د ماشوم د پيدا کيدو نه پس ورومبې کار دا اوکړې شي چه ماشوم اولمبولې شي او د هغه په غوږ کښ اذان او اِقامت اووئيلې شي نو اِنْ شَآءَاللهُ عَزَّوَجَلَّ ټول عُمر به (د ميرګي) نه په حفاظت کښ وي. (ملفوظات اعلیٰ حضرت ص417 مکتبة المدينه کراچي)

رضاؔ کے سامنے کی تاب کس میں
فلک وار اِس پہ ترا ظِل ہے یا غوث (حدائقِ بخشش شریف)

د رضا مخښې ته څوك ټينګيدې شي ځکه چه د اسمان په شان د ده د پاسه ستاسو سورې دې يا غوث.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د غوثُ الاعظم کوهې

**يو** ځل په بغدادِ مُعلّٰی کښ د طاعون بيماري خوره شوه او خلق ډير زيات مړه کيدل. خلقو د غوثِ پاك په خدمت کښ د دې مُصيبت نه

د خلاصي ورکولو درخواست اوکړو. اوئې فرمائيل: ”زمونږه د مدرسې نه خوا و شا چه کومه ګيا ده هغه اوخورئ او زمونږه د مدرسې د کوهي اوبه اوڅښئ، څوك چه داسې اوکړي هغه به إِنْ شَآءَاللهُ عَزَّوَجَلَّ د دې مرض نه شِفا اومومي.“ چنانچه په ګيا او د کوهي په اوبو شِفا مِلاويدل شروع شو تر دې چه د بغداد نه طاعون داسې اوتښتيدو چه بيا کله واپس نه دې راغلې. (تفريح الخاطرفي مناقب الشيخ عبدالقادر ص 43)

په ”طَبقاتِ کُبریٰ“ کښې د غوثِ اعظم عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْاَكْرَم دا ارشاد هم نقل کړې شوې دې: **”کوم مسلمان چه زما په مدرسه باندې تير شو د قيامت په ورځ به د هغه په عذاب کښې کمې کيږي.“** (طبقات الکبریٰ للشّعرانی الجزء الاوّل ص 179 دارالفکر بيروت)

گناہوں کے اَمراض کی بھی دوا دو
مجھے اب عطا ہو شفا غوثِ اعظم
د ګناهونو د مرض دارو هم راکړئ
ماته اوس [د دې مرض نه] شفا عطا کړئ يا غوثِ اعظم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ډوب شوې جنج

يو ځل سرکارِ بغداد حضور سيِّدُنا غوثُ الاعظم عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْاَكْرَم د درياب طرف ته تشريف يوړلو، هلته ئې يوه بوډۍ اوليدله چه هغه په

چغو چغو ژړېدله. يو مُريد د غوثِ پاك په بارګاه کښې عرض اوکړو: يا مُرشِدي! د دې بوډۍ يو ښکلې ځوئ وو، دې غريبې هغه ته واده اوکړو هلك د نکاح نه پس هم په دې درياب کښې د کِشتۍ په ذريعه ناوې خپل کور ته راوستله، کِشتۍ پرې واوښتله او د واده د هلك او ناوې سره ټول جنج ډوب شو. د دې واقعې دولس کاله شوي دي خو آخر د مور ځيګر دې، د غريبې غم نه ځي، دا هره ورځ د درياب غاړې ته راځي، خو جنج او نه وِيني او په ژړا ژړا واپس لاړه شي. د حضور غوثُ الاعظم عَلَيۡهِ رَحۡمَةُ اللهِ الۡاَکۡرَم په هغه ضعيفه (يعنې بوډۍ) باندې ډېر زړه خُوږ شو، هغوئ رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه د الله عَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښې د دُعا د پاره لاس پورته کړل، يو څو مِنټه پورې خو هيڅ هم ښکاره نه شو، بيتابه شو او په بارګاهِ اِلٰهِي عَزَّوَجَلَّ کښې ئې عرض اوکړو: يا الله عَزَّوَجَلَّ دومره تاخِير ولې کيږي؟ اِرشاد اوشو : ''اے زما ګرانه بنده! دا تاخِير د تقدير او تدبِير خِلاف نه دې، ما که غوښتې نو په يو حُکمِ کُن به مې زمکه او آسمانونه ټول پيدا کړي وې، خو بَمُقتَضائے حِکمت [يعنې د خپلې خوښې په حِکمت] مې په شپږو ورځو کښې پيدا کړل، جنج چه ډوب شوې نو دولس کاله تير شوي دي، اوس نه هغه کشتۍ پاتې ده او نه د هغې کومه يوه سورلۍ، د ټولو کسانو غوښه هم دريايي ځناورو خوړلې ده، ريزه ريزه مې د بدن په حصّو کښې راجمع کړل او دوباره مې د ژوند په مرحله کښې ورداخِل کړي دي، اوس د هغوئ د راتګ

وخت دي“ دا کلام لا نه وو ختم چه يو دم هغه کِشتئ د خپل ټول سامان، د واده هلك، ناوې او جنجيانو سره د اوبو په سر راښکاره شوه او په لږ ساعت کښې غاړې ته را اورسيدله، ټولو جنجيانو د غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه نه دعاګانې واغستې او په خوشحالئ خوشحالئ خپلو کورونو ته اورسيدل. دا کرامت ئې چه واوريدلو نو بې شميره کافران راغلل او د غوثِ پاك عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْاَكْرَم په مبارکو لاسونو ئې اسلام قبول کړو. (سلطان الاذکار في مناقب غوث الابرار، لشاه محمد بن الهمدني)

نکالا ہے پہلے تو ڈوبے ہوؤں کو
اوراب ڈوبتوں کوبچا غوثِ اعظم (ذوقِ نعت)

مخکښې دي ډوب شوي راويستلي وو
اوس چه کوم په ډوبيدو دي هغه بچ کړئ يا غوثِ اعظم.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## آيا بنده مړي ژوندي کولې شي؟

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! بيشکه مرګ او ژوند د الله عَزَّوَجَلَّ په اختيار کښې دي خو که الله عَزَّوَجَلَّ خپل يو بنده ته د مړو ژوندي کولو طاقت ورکړي نو د هغه د پاره دا هيڅ مُشکله خبره نه ده او د الله عَزَّوَجَلَّ په ورکړه که مونږه بل څوك د مړو راژوندي کونکې تسليم کړو نو په دې زمونږه ايمان ته څه نقصان نه رسي، که څوك د شيطان په خبرو کښې راغې او په خپل ذهن کښې ئې دا خبره واچوله چه الله عَزَّوَجَلَّ بل چا ته د

مړو راژوندي كولو طاقت هېڅو وركړې نه دې نو د هغه دا نظريه يقيناً د حكمِ قرآني خِلاف ده اوګورئ قرآنِ پاك د حضرت سيِّدُنا **عِيسىٰ روحُ الله** عَلٰى نَبِيِّنَا وَعَلَيۡهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام مريضانو ته د شِفا وركولو او د مړو راژوندي كولو د طاقت صفا صفا اعلان كوي څنګه چه په پاره 3 **سُوره آلِ عِمران** آيت نمبر49 كښ د حضرت سيِّدُنا **عِيسىٰ روحُ الله** عَلٰى نَبِيِّنَا وَعَلَيۡهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام دا ارشاد نقل كړې شوې دې:

وَ اُبۡرِئُ الۡاَكۡمَهَ وَ الۡاَبۡرَصَ وَ اُحۡیِ الۡمَوۡتٰی بِاِذۡنِ اللّٰهِ ۚ

**ترجمه كنزُ الايمان: او زه شِفا وركوم پيدائِشي ړندو او سپين داغ (يعني د بركې مرض)والو ته او زه مړي ژوندي كووم د الله (عَزَّوَجَلَّ) په حُكم.**

اُمِّيد دې چه د شيطان اچولې شوې **وسوسه** به د جرړې سره غوځه شوې وي، ځكه چه مسلمان په قرآنِ پاك باندې ايمان لري او هغه د قرآنِ مجيد د حكم خلاف بل يو دليل هم نه قبلوي. بهرحال **الله** عَزَّوَجَلَّ خپلو مقبول بندګانو ته قِسم قِسم اختيارات وركوي او د الله عَزَّوَجَلَّ په عطا [يعني په وركړه] د هغوئ نه داسې كارونه ظاهرېږي چه هغه د [عام] انساني عقل د اوچت والي نه ډير زيات اوچت وي. يقيناً د الله والؤ د تصرُّفاتو او اختياراتو اوچتوالي ته د دنيا د خلقو د عقل اوچت والي نيزدې هم نه شي رسيدې.

# د سائِنسدان نظر

د دې **دور** د ټولو نه غټ سائِنسدان ”آئن اِسټائِن“ وئیلي وو: ”ما د ریډیو دوربین په ذریعه یو داسې کهکشان خو اولیدو کوم چه د دنیا نه دوه کروړه نوري کاله لرې دې یعني رڼړا چه هغه په **یو سیکنډ کښې یو لاکھ شپږ اتیا زره میله** سفر کوي، هلته به په دوه کروړه کلونو کښې رسي خو د کوم ځائ پورې چه د کائِنات د سرحدونو د معلومولو تعلّق دې که زما عمر یو مِلیَن یعني لس لکه کاله شي بیا ئې هم نه شم معلومولې.“

د سائِنسدان برخِلاف د خُدائے رحمٰن عَزَّوَجَلَّ ولي حضور **غوثِ اعظم** عَلَیْہِ رَحْمَۃُ اللّٰہِ الْاَکْرَم د نظر لوئي او شان اوګورئ! هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي:

نَظَرْتُ اِلٰی بِلَادِ اللّٰهِ جَمْعًا  كَخَرْدَلَةٍ عَلٰی حُكْمِ التِّصَالِ

(یعني د الله عَزَّوَجَلَّ ټول ښارونه زما په نظر کښې داسې دي لکه د لاس په تلي کښې د ورئ دانه)

زما آقا اعلٰحضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د غوثِ پاك په بارګاه کښې عرض کوي:

وَرَفَعْنَالَكَ ذِكْرَك کاہے سایہ تجھ پر

بول بالا ہے ترا ذکر ہے اُونچا تیرا (حدائقِ بخشش شریف)

په تاسو باندې د حضور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سورې دې.

هر طرف ته ستاسو چرچه ده او ستاسو ذِکر اوچت دې.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بد عقیده قاتِل سزا

اوس د وِصال شریف [یعنې د دنیا نه د سفر کولو] نه د ډېرې مودې وروستو د رَنجیت سنګهـ د حکومت په وخت کښې په هندوستان کښې ښکاره کیدونکې یوه ایمان تازه کونکې واقعه اولولئ او ایمان تازه کړئ! یو د نو م مسلمان کوم چه د اولیآئے کرام د کراماتو مُنکِر وو، په بد قسمتئ سره په یوه واده شوې هِندوې مَیَن شو. یو ځل هِندو خپله ښځه د هغې د پلار کره د بوتللو د پاره د کور نه باهر ته را اووتو، هلته په دغه بدبخته عاشِق باندې شهوت غالب شو. هغه په هغوئ پسې وروستو روان شو او په یو ځان له ځائ کښې ئې دواړه ګیر کړل، هغوئ دواړه پیدل وو او دې په آَس سور وو، ده ورته د دروغو په همدردئ د سورلئ پیشکش اوکړو خو هِندو ورته انکار اوکړو، هغه ورته ډېر زیات سَت اوکړو چه ښه دې ښځې ته اجازت ورکړه چه دا راپسې شا ته کښېني، دا غریبه به ستړې شي، هِندو ته د هغه په نیّت باندې شك وو ځکه ئې ورته اووئیل چه ته ضمانت راکړه چه د هیڅ قِسم خیانت کولو نه بغیر به زما ښځه خپل منزل ته رسوې. هغه ورته اووئیل په دې ځنګل کښې زه ضمانتي د کوم ځائ نه راولم؟ هغه ښځې اووئیل: **مسلمانان د یوولسمې ځوان غټ پیر صاحب** ډېر مني، بس ته د هغوئ ضمانت راکړه. هغه اګر چه د غوثِ پاك عَلَیۡهِ رَحۡمَةُ اللهِ الۡاَکۡرَم د اختیاراتو منونکې نه وو خو دا سوچ ئې اوکړو چه په آو وئیلو زما څه ځي، او وئیل ئې آو صحیح ده. چه ښکه ورسره

ښځه په اَس سوره شوه، هغه ظالم د هغې د خاوند نه په تُوره سر اووهلو او اَس له ئې پونده ورکړه، ښځه په غم کښې پریشانه او د یرې نه غلې ناسته په بیا بیا مخ واړوي او په شا اوګوري. هغه ورته اووئیل چه بیا بیا د شا ته کتلو نه به درته هیڅ په لاس رانه شي، ستا خاوند اوس واپس نه شي راتلې. هغې په رپیدلي آواز کښې اووئیل: زه خو په **غټ پیر صاحب [یعنې د یوولسمې ځوان]** پسې ګورم. په دې خبره هغه په بق بق اوخندل او وئیل ئې د غټ پیر صاحب خو ډیر کلونه اوشو چه مړ شوې دې، اوس هغه چرته راتلې شي! چه دا ئې څنګه اووئیل نو ناڅاپه دوه بزرګان راښکاره شو په هغوئ کښې یو ورمخکښې شو او په تُوره ئې د هغه بد عقیده عاشِق سر کټ کړو بیا ئې ښځه سره د اس هغې ځائ ته راوستله کوم ځائ چه هِندو کټ کړې شوې پروت وو، په دواړو کښې یو بزرګ کټ شوې سر د بدن سره اولګوو او اوئې فرمائیل: ''قُمْ بِاِذْنِ اللّٰه'' یعنې پاڅه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په حکم. هغه هِندو په هغه وخت ژوندې شو. هغه دواړه بزرګان غائِب شو. دا دواړه ښځه او خاوند د هغه مرې په اَس سواره شو او واپس کور ته راغلل. د مړې وارثانو اَس اوپیژندو او د رنجیت سنګهـ په عدالت کښې ئې په ښځه او خاوند دواړو کیس اوکړو چه زمونږه سړې غائِب دې او اَس د دوئ سره دې، شائِد چه دوئ زمونږه سړې قتل کړې دې. پیشي اوشوه او هغه ښځې او خاوند د ځنګل ټوله واقِعه بیان کړله او وئیل ئې چه په هغه

دوارړو بزرګانو کښې يو بزرګ د دې ځاې د **مشهور مجذوب ګل محمد شاه صاحِب** په شان وو. چنانچه هغه **مجذوب** بزرګ را اوغوښتې شو، هغوئ تشريف راوړو او د راتلو سره ئې تر اول نه د آخِري پورې ټوله واقِعه لفظ په لفظ بيان کړه. خلقو چه د حضور غوثِ اعظم عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْاَكْرَم دا ژوندې کرامت اوليدو نو حيران پاتې شو. رنجيت سنګھ مُقدِمه خارِج کړه او هغه دوارړو ښځه او خاوند له ئې انعام و اکرام ورکړل او رخصت ئې کړل. (الحقائق فی الحدائق ص95)

الاماں قہر ہے اے غوث وہ تیکھا تیرا
مر کے بھی چین سے سوتا نہیں مارا تیرا (حدائقِ بخشش شریف)

الامان اے غوث ستاسو قهر دومره تريخ دې
ستاسو وهل خوړونکې په مړينې هم په سکون نه شي اوده کيدې.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## 70 ځله اِحتِلام

د حضرت سيِّدُنا غوثِ اعظم عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْاَكْرَم يو مُريد په يوه شپه د نوو نوو ښځو په وجه اويا ځل **مُحتَلِم** شو (يعني اودس پرې واوښتو). سحر چه د غُسل نه فارِغ شو نو د خپلې پريشانئ د فرياد د پاره د خپل مُرشِدِ کريم حضور غوثِ اعظم عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْاَكْرَم په خِدمتِ با عَظَمت کښې حاضر شو. **مخکښې** د دې نه چه دې څه عرض اوکړي، سرکارِ بغداد

حضورِ غوثِ اعظم عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْاَكْرَم ورته پخپله اوفرمائيل: د شپې د واقعې نه مه پريشانه کيږه، ما د شپې په لوحِ محفوظ باندې نظر واچولو نو ستا په باره کښې پکښې د اويا مُختلِفو ښځو سره زِنا مُقدّر [يعنې ليکلې ] وه، ما د الله عَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښې زارې اوکړله چه هغه ستا تقدِير بدل کړې او د دې ګناهونو نه ستاحِفاظت اوفرمائې. چنانچه هغه ټولې واقعې په خوب کښې د احتلام په صورت کښې بدلې کړې شوې. (بهجة الاسرار ص 193)

ترے ہاتھ میں ہاتھ میں نے دیا ہے
ترے ہاتھ ہے لاج یا غوثِ اعظم (ذوقِ نعت)
ستاسو په لاس کښې مې لاس درکړې دې
ستاسو په لاسو کښې زما عزّت دې يا غوثِ اعظم

## ارشاداتِ غوثِ اعظم عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْاَكْرَم

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د دې نه معلومه شوه چه د کوم يو پيرِ کامِل بيعت [يعنې مُرِيدې] ضرور کول پکار دې ځکه چه د پير د توجُّه په وجه د مُصيبتونو مخ نيوې کيږي. او ځينې وخت غټ آفت په وړوکي آفت کښې بدل شي. په "**بهجةُ الاسرار شريف**" کښې دي، پيرانو پير، پير دستګِير، روشن ضمير، قُطبِ ربّاني، محبوبِ سُبحاني، پيرِ لاثاني، قِندِيلِ نوراني، شهبازِلامکاني، **الشَّيخ ابو مُحمّد سيِّد عبدُالقادِر جيلاني** قُدِّسَ سِرُّهُ الرَّبَّانِي د زِيري نه ډك فرمان دې: ما ته يو ډير غټ رجسټر

راکړې شو چه په هغې کښې زما د اوسنو او د قيامته پورې زما کيدونکو مُرِيدانو نومونه ليکلې شوي وو او ما ته اووئيلې شو چه دا ټول کسان ستا په حواله کړې شو. فرمائي، ما د دوزخ د داروغه نه تپوس اوکړو چه: آيا په دوزخ کښې زما کوم يو مُرِيد هم شته؟ هغوئ جواب راکړو: "نه." هغوئ رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه نور دا اوفرمائيل: زما دې د خپل پروردِګار عَزَّوَجَلَّ په جلال قسم وي! زما **دستِ حِمايت** [يعنې د مدد لاس] زما په مُرِيد باندې داسې دې څنګه چه آسمان په زمکه د پاسه دې. که زما مُرِيد ښه نه وي هم نو څه اوشو اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زه خو ښه يم. زما دې دخپل ساتونکې په عِزّت او جلال قسم وي! زه به تر هغې پورې د خپل رب عَزَّوَجَلَّ د بارګاه نه نه لرې کيږم تر څو چه خپل يو يو مُرِيد جنّت ته داخِل نه کړم. (بهجة الاسرار ص 193)

مریدوں کو خطرہ نہیں بحرِ غم سے
کہ بیڑے کے ہیں ناخدا غوثِ اعظم (ذوقِ نعت)

مريدانو ته د غمونو د سمندر نه هيڅ خطره نشته
ځکه چه د بيړئ چلولونکې غوثِ اعظم دې

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## عظيمُ الشّان کرامت

د ابو **المُظفَّر** حسن نوم يو تاجِر د حضرت سيِّدُنا شيخ حمّاد عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْجَوَاد په بارګاه کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: حضورا زه د

تجارت د پاره قافِلې سره مُلكِ شام ته ځم، تاسو ته د دُعا درخواست دې. سيِّدُنا شيخ حمَّاد عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْجَوَاد ورته اوفرمائيل: ”ته خپل سفر وروستو کړه، که اوس لاړې نو ډاکوان به ستا ټول سامان ستا نه په زور واخلي او تا به هم قتل کړي.“ تاجِر چه دا واوريدل نو ډير اويَريدو، هم په دې پريشانۍ کښې واپس راروان وو چه په لار کښې ورته غوثِ اعظم عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْاَكْرَم مِلاؤ شو، تپوس ئې ترې اوکړو چه ولې پريشانه ئې؟ هغه ورته ټوله واقِعه بيان کړله. هغوئي ورته اوفرمائيل پريشانه کيږه مه، په شوق سره د شام د ملك سفر اوکړه، اِنْ شَآءَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ هر څه به ټهيك شي. چنانچه هغه د قافِلې سره روان شو، هغه ته په کاروبار کښې ډيره ګټه اوشوه، هغه د زرو اشرفو د کڅوړې (يعني تهيلۍ) سره د شام ښار ”حَلَب“ ته اورسيدو. اِتِّفاقاً هغه د اشرفو کڅوړه چرې کيښوده او ترې هيره شوه، هم په دې فِکر کښې پرې خوب غلبه اوکړه او اوده شو. هغه يو يرووونکې خوب اوليدو چه ډاکوانو په قافِله حمله اوکړه او ټول مال ئې لوټ کړو او هغه ئې هم قتل کړو! د يَرې نه د هغه سترګې اوغړيدې، په يَره راپاځيدو خو هلته څه ډاکو وغيره نه وو. اوس هغه ته ورياد شو چه د اشرفو کڅوړه هغه په فلانکې ځائ کښې کيښودې ده، هلته په منډه ورغلو، کڅوړه ورته مِلاؤ شوه. په خوشحالۍ خوشحالۍ بغداد شريف ته واپس راغلو. اوس په دې فِکر کښې وو چه مخکښې د غوثِ پاك عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْاَكْرَم سره مِلاؤ شم که د شيخ حمَّاد عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْجَوَاد سره! اِتِّفاقاً په لار کښې ورته

سیِّدُنا **شیخ حمّاد** عَلَیْہِ رَحْمَۃُ اللّٰہِ الْجَوَاد مِلاؤ شو چه څنګه ئې اولیدو نو ورته وئې فرمائیل: ”لا ړشه مخکښې **غوثِ اعظم** عَلَیْہِ رَحْمَۃُ اللّٰہِ الْاَکْرَم سره مِلاؤ شه ځکه چه هغه **محبُوبِ ربّاني** دې، هغوئي ستاسو د پاره 17ځله دُعا اوکړه نو هله بیا ستا تقدیر بدل شو هغه د کومې خبرې چه ما تاته خبر درکړې وو، الله عَزَّوَجَلَّ ستا سره کیدونکي واقِعه د غوثِ اعظم عَلَیْہِ رَحْمَۃُ اللّٰہِ الْاَکْرَم د دعا په برکت سره د بیدارئ نه خوب ته مُنتَقِله کړه.“ چنانچه هغه په بارګاهِ غوثِیّت مآب کښې حاضر شو. غوثِ اعظم چه هغه څنګه اولیدو نو ورته ئې اوفرمائیل: ”واقعهٔ ما ستا د پاره 17 ځله دُعا کړې وه.“ بیا ئې او وئیل :ما ستا دپاره 17 ځله او د 17 ځله نه 70 ځله پورې دُعا غوښتلې وه. (بہجۃ الاسرار ص 64) **د الله عَزَّوَجَلَّ دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږه بې حِسابه مغفِرت وي.**

غرض آقا سے کروں عرض کہ تیری ہے پناہ
بندہ مجبور ہے خاطر پہ ہے قبضہ تیرا (حدائقِ بخشش شریف)

خپل غرض خپل آقا ته بیانوم چه هم دا ستاسو اَسْره مې ده
زه پریشانه یم او الله عَزَّوَجَلَّ تاسو له اختیارات درکړې دي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د عذابِ قبر نه خلاصي

یو غمژن ځلمې راغې او په بارګاهِ غوثِیّت کښې ئې فریاد اوکړو: حضورا! ما خپل والِد مرحوم د شپې په خوب کښې اولیدو، هغه وئیل:

”ځويه زه په عذابِ قبر کښې اخته يم، ته د سيِّدُنا شيخ عبدُالقادِر جِيلاني قُدِّسَ سِرُّہُ الرَّبَّانِي په بارګاه کښې حاضر شه او زما د پاره ورته د دعا درخواست اوکړه.“ دا ئې چه واوريدل نو سرکارِ بغداد حضورِ غوثِ اعظم عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْاَکْرَم تپوس اوکړو: آيا ستاسو والِد صاحِب زما په مدرسه کله تير شوې وو؟ هغه عرض اوکړو: آوجي. بس هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه خاموش شو. هغه ځلمې لاړو. بله ورځ خوشحاله خوشحاله په خِدمت کښې حاضِر شو او وئيل ئې: يا مُرشِد! نن مې والِد صاحب شنه حُلّه (يعني شين لِباس) اغوستې په خوب کښې تشريف راوړو، هغوئي ډير خوشحاله وو، او وئيل ئې: ”ځويه! د سيِّدُنا شيخ عبدالقادِر جِيلاني قُدِّسَ سِرُّہُ الرَّبَّانِي په برکت سره زما نه عذاب لرې کړې شوې دې او دا شنه حُلّه هم راته مِلاؤ شوې ده. زما خوږه ځويه ته د هغوئ په خِدمت کښې اوسه.“ چه دا ئې واوريدل نو هغوئ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه اوفرمائيل: زما رب عَزَّوَجَلَّ زما سره دا وعده فرمائيلې ده چه کوم مسلمان چه ستا په **مدرسه** باندې تيرېږي د هغه په عذاب کښې به تخفيف (يعني کمې) کيږي. (بهجة الاسرار ص 193)

نزع میں، گور میں، میزاں پہ سرِ پل پہ کہیں
نہ چھٹے ہاتھ سے دامانِ معلّٰی تیرا (حدائقِ بخشش شریف)

په ځنکدن کښې، په قبرکښې، په ميزان او په پل صراط باندې،
په يو ځائ کښې دې ستاسو د عزّتونو والا لمن زما د لاسه خلاصه نه شي

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د مړي چغې سُورې

يو پيره په بارګاهِ غوثِيّت مآب کښې خلق حاضر شو او عرض ئې اوکړو: عالي جاه! [يعني عزّت منده] د "بابُ الۡاَزَج" په مُقبره [اديره] کښې د يو قبر نه د مړي د چغو آوازونه راځي. حضور! څه کرم اوکړئ چه د هغه غريب نه عذاب لرې شي. هغوئې رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه ارشاد او فرمائيلو: آيا هغه زما نه د خِلافت خِرقه اغوستې ده؟ خلقو عرض اوکړو: مونږ ته پته نشته. وې فرمائيل: آيا هغه کله زما په مجلِس کښې حاضر شوې وو؟ خلقو وئيل: مونږ ته معلومه نه ده. فرمائيل ئې: آيا هغه کله زما ډوډئ [روټئ] خوړلې ده؟ خلقو بيا لاعِلمي ښکاره کړه. هغوئ رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه تپوس اوکړو: آيا هغه کله په ما پسې مونځ کړې وو؟ خلقو هم هغه جواب ورکړو. هغوئې سر مبارك لږ شان ټِيټ کړو نو په هغوئ رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه د جلال او وقار اثرات ښکاره شو. لږ ساعت پس ئې اوفرمائيل: ما ته اوس اوس فرِښتو اووئيل: "هغه ستاسو ديدار کړې وو او هغه ستاسو سره عقيدت هم لرلو، لِهٰذا الله تَبَارَكَ وَ تعالٰی په هغه رحم اوکړو." اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د هغه د قبر نه آوازونه راتلل بند شو. (بهجة الاسرار ص 194)

بد سہی، چور سہی، مجرِم و ناکارہ سہی
اے وہ کیسا ہی سہی ہے تو کریما تیرا (حدائقِ بخشش شریف)

که بد وي، که غل وي، که مُجرِم او بيکاره وي،
که هر څنګه وي نو اے د کرم والا، هغه دې خو ستاسو

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

## د سنّتو سپرلي

اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د تبليغ قرآن و سنّت عالمګير غيرسياسي تحريک دعوت اسلامي په خوشبودارمدني ماحول کښې په کثرت سره سنّتونه زده کيږي او ښودلې شي، هره پنجشنبه (يعنې زيارت) د ماښام د مانځه نه پس ستاسو په ښار کښې کيدونکې د دعوت اسلامي په هفته واره اجتماع کښې د ټوله شپه تيرولو مدني عرض دې، د عاشقانِ رسول سره په مدنی قافلو کښې سفره او هره ورځ د "فکرِمدينه" په ذريعه د مدنې انعاماتو رساله ډکولو او د خپل ځائ ذمه دارته د جمع کولو عادت جوړ کړئ. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د دې په برکت سره به دسنّتو د پابند جوړيدو، د ګناهونو نه د نفرت کولو او د ايمان د حفاظت دپاره د سوچ او فکر ذهن جوړيږي. هراسلامي ورور دې خپل دا ذهن جوړ کړي چه "ماته د خپل ځان او د ټولې دنيا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د خپل ځان د اصلاح د کوشش کولو د پاره په "مدنې انعاماتو" عمل او دټولې دنيا د اصلاح د کوشش د پاره په "مدنی قافلو" کښې سفرکول دي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ











فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net